# د عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ

# درېٖ خاص صفتونه

**04 June 2026**



(For Islamic Brothers)

هفته وار د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

پهٔ 4 جون، کال 2026ء (بمطابق: 18 ذي الحج شريف، کال 1447ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اِجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# د عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ درېٖ خاص صفتونه

پهٔ دې بيان کښې به تاسو زده کړی...

- پهٔ قرآنِ کريم کښې د خِلافت د ترتيب ذِکر
- د عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ د اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام سره مشابهت
- د عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ مالي قرباني
- د عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ خوش قِسمتي

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ؕ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ؕ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰہ
اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د **الله** پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اے خلقو! بے شکه د قيامت پۀ ورځ به د هغې د وحشتونو [يعنې ويرو] او د حِساب نه زر نجات موندونکے هغه وي، چا چې پۀ ما باندې پۀ دُنيا کښې ډير درود وئيلے وي-[1]

دولت جو چاہو دونوں جہاں کی
کرلو وظیفہ نامِ مُحَمَّد
روزِ قیامت میزان و پُل پر
دے گا سہارا نامِ مُحَمَّد
پوچھے گا مولیٰ لایا ہے کیا کیا
میں یہ کہوں گا نامِ مُحَمَّد[2]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

پۀ **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نيتونو دے-[3]

---

[1]…مسند الفردوس، جلد:5، صفحه:277، حديث:8175۔
[2]…قبالۂ بخشش، صفحه:133 تا 135 ملتقطًا۔
[3]… بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پۀ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي- راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِيَّتونه اوکړو: مَثَلاً ◈ د **الله** پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ◈ پۀ اَدَب به کښېنم ◈ ښۀ پۀ توجُّه به بيان اورم ◈ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## کاڼو تسبيح شروع کړه

حضرت اَبُو ذر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ صحابیِ رسول دے، هغوئي فرمائي: زۀ د مسلمانانو د دريم خليفه حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ذِکر هميشه پۀ خير سره کووم (يعنې د هغوئي چرې هم بد نۀ بيانووم، کله چې هم د هغوئي خبره وي، نو تعريف يې کووم، داسې ولې ده ؟ فرمائي:) د هغوئي يو شان دے کوم چې ما پۀ خپلو سترګو ليدلے وو-

هُغه شان کوم چې حضرت اَبو ذر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ خپلو سترګو ليدلے وو، پخپله يې هم د هغوئي نه واورئ! فرمائي: زۀ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خَلوَتونو عاشق ووم، پۀ لټون کښې به ووم، چې کله به هم نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يواځې کيدلو، زۀ به فوراً حاضريدم او عِلمِ دِين به مې ترې زده کولو- يوه ورځ ما وليدل چې رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يواځې تشريف فرما دے- ما موقع غنيمت وګڼله او فوراً حاضر شوم- ◈ لا ناست هيله کښيناستم (لږ وخت تير شوے وو) چې د مسلمانانو وړومبے خليفه حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هم هلته راغلو- هغوئي حاضر شو او سلام يې عرض کړو: نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم جواب ورکړو او پوښتنه يې ترې اوکړه: ابو بکر!

کومې خبرې تهٔ دا وخت دلته راوستې؟ عرض يې اوکړو: اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ يعنې د الله او د رسول محبت راوستے يم۔

◈ لږ ساعت شوے وو چې د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ هم راغلو، هغوئي هم سلام اوکړو او کيناستو، رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئي نه هم پوښتنه اوکړه: عمره! کومې خبرې تهٔ دا وخت دلته راوستې؟ عرض يې اوکړو: د الله او د رسول محبت۔ ◈ لږ ساعت پس د مسلمانانو دريم خليفه حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ هم راغلو۔ هغوئي هم سلام اوکړو او کيناستو۔ نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئي نه هم پوښتنه اوکړه: تهٔ کومې خبرې دا وخت دلته راوستې؟ هغوئي هم دا عرض اوکړو: د الله او د رسول محبت راوستے يم۔

حضرت اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: د رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ لاس مبارک کښې 7 يا 9 کاڼي وو۔ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل لاس پهٔ تَلي کښې کيښودل نو سُبْحٰنَ الله! هٰغه کاڼو تسبيح شروع کړه۔ ما او ټولو حاضرينو د هغې اواز اوريدو۔

بيا نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هٰغه کاڼي پهٔ زمکه باندې کيښودل نو هغه خاموشه شول۔ بيا رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هٰغه کاڼي راواخستل او د حضرت صِدّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ پهٔ لاس مبارک کښې يې ورکړل۔ څنګه چې هغه د حضرت صِدّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ لاس ته لاړل، بيا يې تسبيح شروع کړه، د هغې اواز مونږ ټولو حاضرينو اوريدو۔ د دې نه پس چې څنګه هغوئي هغه پهٔ زمکه باندې کيښودل نو هغه بيا خاموشه شول۔

بیا رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کاڼي د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ په لاس کښې کېښودل- بیا هغوئي تسبیح شروع کړه، بیا چې یې په زمکه باندې کېښودل نو خاموشه شول، په دریم ځل نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه کاڼي د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ په لاس کښې کېښودل، هغوئي بیا تسبیح شروع کړه، په زمکه باندې چې یې کېښودل نو خاموشه شول- بیا رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: هَذِهِ خِلَافَةُ النُّبُوَّةِ دا د نبوت خِلافت دے-[1]

د دې نه پس نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د باقي حاضرینو په لاس کښې کاڼي کېښودل خو د چا لاس ته هم په تللو هغوئي تسبیح وه نۀ لوستله-

## د خِلافت ترتیب

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** ایمان تازه کوونکي حدیثِ پاک کښې د خِلافت د ترتیب (***Order of Succession***) بیان دے، د ټولو نه وړومبے کاڼي ◈ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لاس ته راغلل ◈ بیا د حضرت صِدِّیق اَکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ◈ بیا د فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ◈ بیا د عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ لاس ته- د خِلافت ترتیب هم دا دے: (1): وړومبے خلیفه صِدِّیقِ اکبر (2): دویم خلیفه فاروقِ اعظم (3): او دریم خلیفه حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم دے-

د دې کاڼو په تسبیح لوستلو کښې اِشاره ده چې څنګه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني

---

[1] ...تاریخ دمشق، جلد:39، صفحه:117-

مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ظاهره ګرځېدونکي مړي ژوندي کړل او په هغوئي کښې يې اِيماني ژوند پيدا کړو، د **الله** پاک ذِکر يې عام کړو، خلق يې نيکان کړل، اِسلام يې خور کړو، دغه شان د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه پس، د هغوئي د نائِب او خليفه په توګه به دا اثر د حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ لاس مبارک ته راځي، بيا به دا اثر حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ او د هغوئي نه پس به د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ لاس مبارک ته راځي۔

دا هم عرض کووم چې څلورم خليفه مولائے کائنات حضرت مولیٰ علي الْمُرتضیٰ شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دے، په دې موقع باندې هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ موجود نهٔ وو، ځکه د هغوئي ذِکرِ خير رانغلو، که هغوئي حاضر وو نو د هغوئي په لاس مبارک کښې به هم ضرور کاڼو تسبيح لوستله۔

## په قرآنِ پاک کښې د خِلافت د ترتيب ذِکر

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د خِلافت د دې ترتيب ذِکر د قرآنِ کريم په دې آيت مبارک کښې هم شوے دے، **الله** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ؕ وَ الَّذِیْنَ مَعَهٗۤ اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَیْنَهُمْ تَرٰىهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا یَّبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَ رِضْوَانًا٘ سِیْمَاهُمْ فِیْ وُجُوْهِهِمْ مِّنْ اَثَرِ السُّجُوْدِؕ (پاره:26، سورهٔ فتح:29) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: مُحَمَّد د الله رسول دے او د هغوئي ملګري په کفارو باندې سخت، خپل مينځ کښې نرمو زړونو والا دي۔ ته به هغوئي په رکوع کولو سجدو کولو وينې، د الله فضل او رضا غواړي د هغوئي علامت د هغوئي په مخونو کښې د سجدو د نخښو نهٔ دے۔ |

علمائے کرام فرمائي: په دې آيت مبارک کښې د ۞ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗٓ (او د هغوئي ملګرو) نه مُراد حضرت صِدِّيقِ اَکبر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ دے ۞ اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ (په کفارو باندې سخت) حضرت فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ دے ۞ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ (خپل مينځ کښې نرمو زړونو والا) حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ۞ او د تَرٰىهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَّبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا٘ (ته به هغوئي په رکوع کولو، په سجدو کولو وينې) نه مُراد څلورم خليفه حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ دے۔(1)

چهارْ يارَش تا تاجِ اَصفِيا نَشُدنْد | نَداشْت ساعِدِ دينْ يارَهٔ داشْتَنْ يارَا

مفهوم: څلور ياران د نبي، ابو بکر او عمر او عثمان او علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم ، د دِين مبين قوت او طاقت دے، هغوئي دِين مضبوط کړو او د دُنيا څلورو واړو کوټونو ته يې ورسولو۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## محبت کشش لري

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د کاڼو د تسبيح والا کومه واقعه چې مونږه واريدله، په دې کښې يوه اِيمان تازه کوونکې خبره ده، د کومې طرف ته چې زۀ پام راګرځول غواړم۔ وګورئ چې رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يواځې تشريف فرما وو، يعني د معمول مطابق دا د څۀ دَرس وغيره وخت نۀ وو۔

دغه وخت به په صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم کښې څوک په خپل کور کښې وو، چا به کار

1… تفسير بغوی، پاره:26، سورهٔ فتح، زيرِ آيت:29، جلد:4، صفحه:192۔

روزګار کولو خو کله چې دا صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُم دربارِ رسالت ته حاضر شول، محبوبِ ذِيشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم د دريو وارو نه يوه پوښتنه اوکړه: تاسو کوم څيز دلته راوستي يئ؟ يعني نهٔ دا د نـمونځ وخت دے، نهٔ د دَرس وخت دے، نهٔ د عِلمِ دِين د څهٔ حلقې وخت دے نو تاسو پهٔ داسې وخت کښې د معمول خلاف پهٔ څهٔ وجه راغلي يـئ؟ د دې دريو وارو صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُم هم يو جواب وو: **مونږ د اللّٰه او د رسول محبت راوستي يو-**

ګويا دوئي وئيل چې يا رسولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! مونږ پهٔ خپل کار روزګار کښې مصروف وو، مونږ پهٔ کور کښې وو، مونږ د خپلو بچو سره وو خو زړهٔ مو نا قلاره وو، تاسو صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم راته يادېدلې، ستاسو صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم محبت، ستاسو د ديدار شوق مونږ دلته راوستي يو-

سُبۡحٰنَ اللّٰه! معلومه شوه چې پهٔ محبت کښې کشش وي- محبت ځان ته راښکل کوي- دلته هم خلق د محبت دعوې خو کوي، وائي: زهٔ عاشقِ رسول يم خو پهٔ هغوئي کښې کشش پهٔ نظر نهٔ راځي ◈ پهٔ دُکان کښې دي، د نـمونځ وخت شو، زړهٔ يـې د جومات طرف ته نهٔ راښکي ◈ د درود نهٔ وئيلو څو څو ورځې تيرې شي، زړهٔ نهٔ نا قلاره کيږي ◈ د قرآنِ کريم د تِلاوت طرف ته زړهٔ نهٔ مائله کيږي ◈ مدينه منوره نهٔ ياديږي، پهٔ سترګو کښې اوښکې نهٔ راځي ◈ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ ښکلو ښکلو سُنَّتو باندې تلل نهٔ نصيب کيږي ◈ د عمامې شريفې پهٔ سر کولو باندې زړهٔ نهٔ مجبوره کوي ◈ ږيره مبارکه مَعَاذَاللّٰه! خريوي، زړهٔ کښې يـې څهٔ ويره نهٔ راځي- **خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** مونږ له غور کول پکار دي--!! پهٔ زړهٔ کښې د محبت دعویٰ ده نو بيا د خوږ

مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سُنَّتو طرف ته، د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ذِکر طرف ته، د رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ياد طرف ته زړهٔ ولې نهٔ راښکلے کيږي---؟

زهٔ به دا نهٔ وايم چې زمونږ پهٔ زړهٔ کښې عشقِ رسول نشته، د زړونو د حالت نه **اللّٰه** پاک ښه خبر دے خو حالاتو ته چې وګورې نو داسې ښکاري چې زمونږ محبت ډير کمزورے دے، زمونږ پهٔ زړهٔ کښې کشش نهٔ پيدا کوي- کاش چې مونږ د دعوؤ سره سره پهٔ عملي توګه هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ صحيح معنو کښې محبت کوونکي جوړ شو، کاش چې د سُنَّتو سره مو مينه پيدا شي او مونږ د سُنَّتو نموني جوړې شو-

بے نمازی رہیں کچھ نہ روزے رکھیں ان کو کس نے کہا؟ عاشقانِ رسول
جو کہ گانے سنیں فلم بینی کریں ان کو کس نے کہا؟ عاشقانِ رسول
داڑھیاں جو منڈائیں کریں غیبتیں ان کو کس نے کہا؟ عاشقانِ رسول [1]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مختصر تعارف

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د ذُو الـحِج شريف پهٔ 18 تاريخ د مسلمانانو د دريم خليفه حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ عُرس مبارک وي- [2] ◈ حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ

[1]…وسائلِ بخشش، صفحه:650649 ملتقطاً-

[2]…اسد الغابة، رقم:3589، عثمان بن عفان رَضِیَ اللّٰہُ عنه، جلد:3، صفحه:585-

عَنْہُ صحابیِ رسول دے ◈ په لرې رشته کښې د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خورييے کيږي ◈ هغوئي په سابقينِ اَوَّلين (يعني د نبوت د اِعلان نه پس زر په اِيمان قبلوونکو) کښې دے ◈ هغوئي په څلورم يا پينځم نمبر باندې اِسلام قبول کړے [1] ◈ ډير د فضيلت والا دے ◈ د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه پس هغوئي خليفه مقرر کړے شو ◈ د 12 کالو پورې هغوئي د خِلافت ذمه وارئ ترسره کړې ◈ اخر په 18 ذُو الـحج ډير په ظلم زور سره شهيد کړے شو۔ [2]

| | |
|---|---|
| خَلق پہ لطفِ خُدا حضرت عثمان ہیں | جُملہ مرض کی دوا، درد کے درمان ہیں |
| بابِ سخا کُھل گیا، دیکھا جو یہ ماجرا | غازیانِ مُصطفٰے بے سر و سامان ہیں [3] |

## د نيغې لارې والا

په 14 سيپاره، سُورۂ نحل آيت نمبر: 76 کښې **اللّٰه** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَمَنْ یَّاْمُرُ بِالْعَدْلِ وَ هُوَ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: کوم چې د عدل حُکم کوي او هغه په نيغه لاره هُم دے، آيا هغه دواړه برابر دي؟ |

د قُرآنِ پاک ترجمان، صحابیِ رسول حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا فرمائي: په

---

[1]... نزہۃ القاری، جلد:1، صفحه:544 خلاصۃً۔

[2]... طبقات الکبریٰ، رقم:14، عثمان بن عفان، جلد:3، صفحه:57۔

[3]... دیوانِ سالِک، صفحه:29۔

دې آيت کښې د دريم خليفه حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د شان بيان دے۔[1] وئيلے کيږي چې حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ◈ پخپله هم په صِراطِ مُستَقِيم باندې دے ◈ په نيغه لار باندې روان دے او ◈ ورسره ورسره نورو ته هم د عدل او اِنصاف (***Justice and fairness***) درس ورکوي۔

د دې آيت مبارک نه د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ 2 شانونه معلوميږي: **(1)**: هغوئي په صراطِ مستقيم (يعنې په نيغه لار باندې تلونکے) هم دے او **(2)**: د نورو د نيکې لارې مسافر جوړوونکے هم دے۔

## نيک جوړ شئ او نور خلق نيکان جوړوئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** لږ په توجه سره چې غور اوکړئ نو دا زمونږه مَدَني مقصد هم دے:

**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي۔ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!**

يعنې هغه 2 اعلیٰ خاصيتونه په کومو باندې چې قرآنِ کريم د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ستائينه کړې ده، هم دا دوه خاصيتونه مونږ هم اِختيار کړي دي، پخپله هم هميشه په نيغه لاره باندې تلل دي او نورو ته هم د دې ترغيب ورکول دي۔

---

[1]... تفسير قرطبی، پارہ:14، سورۂ نحل، زيرِ آيت:76، جلد:5، جز:10، صفحه:94۔

## د نیکۍ دعوت د خوند نه ډک عبادت دے

حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: ما د عبادت خوند په 4 څيزونو کښې موندلے دے: (1):فِيْ اَدَاءِ فَرَائِضِ اللّٰهِ يعني د الله پاک د فرائضو په ادا کولو کښې (2):فِيْ اِجْتِنَابِ مَحَارِمِ اللّٰهِ د الله پاک د حرام کړے شوو څيزونو نه په بچ کيدو کښې (3):فِي الْاَمْرِ بِالْمَعْرُوْفِ اِبْتِغَاءِ ثَوَابِ اللّٰهِ د **الله** پاک د رضا د حاصلولو د پاره د نيکۍ د دعوت په ورکولو کښې (4): فِي النَّهْيِ عَنِ الْمُنْكَرِ اِتِّقَاءِ غَضَبِ اللّٰهِ او د **الله** پاک د غضب نه د بچ کيدو د پاره د ګناه نه په منع کولو کښې۔ [1]

مَیں مُبَلِّغ بنوں سنّتوں کا، خُوب چرچا کروں سنّتوں کا

یاخُدا! درس دوں سنّتوں کا، ہو کرم! بہرِ شاہِ مدینہ [2]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ درې خاص صفتونه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ شانونه خو بے شميره دي، د قرآنِ کريم ډير آيتونه هم د هغوئي په شان کښې نازل شوي، په حديثونو کښې هم د هغوئي ډير شانونه بيان شوي دي، البته د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ درې خاص صفتونه کوم

1... اَلْمُنَبِّهَات لابن حجر، صفحه:31۔

2... وسائلِ بخشش، صفحه:189۔

چې په نورو صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم کښې هم ضرور موجود وو خو په حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ کښې د هغې جلوه زياته په نظر راځي- 3 صفتونه دا دي: حُضُور داتا گنج بخش علي هجويري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د طريقت مشائِخو يعنې لوئي لوئي اوليائے کرامو (1): د مال او د ځان هديه (يعنې د الله پاک په نوم باندې ځان قربانول) (2): تسليمِ اُمُور (يعنې د الله پاک په ليکلے شوي تقدير باندې راضي کيدل ) او (3): اِخْلاص (يعنې هميشه د رَبّ د رضا طلبګار اوسيدل)، دا درې خاص صفتونه د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه زده کړي دي-[1]

معلومه شوه چې ۞ د الله او د رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره د ځان او مال نذرانه نورو صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم هم پيش کړه خو په کوم انداز چې حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ پيش کړه، دا هم د هغوئي خاصه ده ۞ ټول صحابهٔ کرام عَلَيهِمُ الرِّضْوَان په تقدير باندې رضا کيدونکي دي خو په کوم شان چې حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ راضي دے، دا د هغوئي خصوصي شان دے ۞ ټول صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم د الله پاک د رضا طلب ګاران دي خو د کوم شان سره چې هغوئي طلبګار شو، دا هم د هغوئي شان دے-

## (1-2) د ځان نذرانه او په تقدير باندې راضي اوسيدل

## په هغوئي به ازميښت راځي

صحابیِ رسول حضرت اَبو مُوسیٰ اَشعري رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: يوه ورځ زهٔ د رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د مدينے په باغونو کښې په يو باغ کښې ووم، يو کَس

[1]... کشف المحجوب، صفحه:87 بتغير قليل-

راغلو، هغهٔ دروازه وډبوله، سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: اِفْتَحْ لَهٗ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ دهٔ ته دروازه برسيره کړه او دهٔ له د جَنَّت زيرے ورکړه- فرمائي: ما دروازه برسيره کړه نو هغه حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وو، ما هغوئي له د جَنَّت زيرے ورکړو- هغوئي د **اللّٰه** پاک شُکر ادا کړو- څهٔ وخت پس بيا دروازه وډبيدله، خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بيا وفرمائيل: اِفْتَحْ لَهٗ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ دهٔ ته دروازه برسيره کړه او دهٔ له (يعنې راتلونکي له) د جَنَّت زيرے ورکړه! حضرت اَبو مُوسیٰ اَشعَرِي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: ما دروازه برسيره کړه، دا راتلونکے حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وو، ما هغوئي له د جَنَّت زيرے ورکړو، هغوئي هم د **اللّٰه** پاک شُکر ادا کړو (او دربارِ رسالت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضر شو)- څهٔ وخت پس پهٔ دريم ځل دروازه وډبيدله، پهٔ دې ځل د غيبو د خبرو نه خبر نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: اِفْتَحْ لَهٗ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ عَلٰى بَلْوٰى تُصِيْبُهٗ يعنې دروازه برسيره کړه او راتلونکي ته ووايه چې يو مصيبت کوم چې به هغوئي ته رسيږي، د هغې نه پس دے جَنَّتي دے-

حضرت اَبو مُوسیٰ اَشعَرِي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: ما چې دروازه برسيره کړه نو مخې ته حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وو، ما هغوئي له د جَنَّت زيرے ورکړو او دا مې هم ووئيل چې ډير زر به هغوئي ته يو اِمتحان پيښيږي، حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د جَنَّت پهٔ زيري ميلاؤيدو باندې د **اللّٰه** پاک شُکر ادا کړو او وه يې وئيل: اَللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ الله مددګار دے (يعنې ما ته چې به کوم مصيبت رارسيږي، د **اللّٰه** پاک پهٔ مدد سره به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! زهٔ پهٔ هغې

کښې کامیاب شم)- (1)

پهٔ دې حدیثِ پاک کښې هم وګورئ چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د غیبو خبر ورکړو او وه یـې فرمائیل چې عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ به د یو اِمتحان نه تیریږي، بیا به پهٔ هٔغه اِمتحان کښې کامیابیږي هم او د هغې نه پس به جَنَّت ته هم رسیږي- سُبۡحٰنَ الله! دا دے زما د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عِلمِ غیب---!! ځکه خو مونږ وایو:

| | |
|---|---|
| جو ہو چکا ہے جو ہو گا حُضُور جانتے ہیں | تیری عَطا سے خُدایا حُضُور جانتے ہیں |
| وہی ہیں پیکرِ شَرم و حَیا وذُو النُّورَین | مقام اُن کی حَیا کا حُضُور جانتے ہیں |

## د شهادت سخت اِنتظار

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! وګورئ چې حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ته ووئیلے شو چې د هغوئي پهٔ تقدیر کښې یو لوئي اِمتحان لیکلے شوے دے، هغوئي به د دې اِمتحان نه تیریږي- اوس حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ دې تقدیر باندې د کوم حده پورې او پهٔ کوم انداز کښې راضي وو؟ د قرآنِ کریم آیت واورئ! الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَمِنۡہُمۡ مَّنۡ قَضٰی نَحۡبَہٗ وَ مِنۡہُمۡ مَّنۡ یَّنۡتَظِرُ (پارہ: 21، سورۂ الاحزاب 23) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو پهٔ هغوئي کښې چا خپله منښته پوره کړې ده او بعضې لا اِنتظار کوي. |

[1] ... بخاری، کتاب فضائل اصحاب النبی، باب مناقب عمر بن الخطاب رَضِیَ اللہُ عنہ، صفحہ:936، حدیث:3693۔

يعني پهٔ صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم کښې ځيني خو هغه دي کومو چې د شهادت مرتبه حاصله کړې ده او ځيني لا اوس هم اِنتظار کوي- د تفسير علمائے کرام فرمائي: د دې اِنتظار کوونکو نه مُراد حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ دے- (1)

سُبۡحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ---!! هغوئي ته وئيلے کيږي چې د هغوئي پهٔ تقدير کښې يو لوئي ازميښت ليکلے شوے دے، د هغه ازميښت نه ويريږي نهٔ او دُعاګاني نهٔ کوي، ژړا انګولا نهٔ کوي-

◈ دلته خو خلق چغې سورې شروع کړي، ګيلې معنې شروع کړي ◈ ما چا ته څهٔ نقصان رسولے وو ◈ اخر هم زما سره داسې ولې کيږي؟ ◈ هم زهٔ ولې ناروغه شوم؟ ◈ اخر زما پهٔ قِسمت کښې غريبي ولې راغله؟ مَعَاذَالله! خلق داسې ګيلې معنې کوي- د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ شان ته وګورئ چې هغوئي پهٔ راتلونکي ازميښت باندې ګيله کول خو لويه خبره ده، پهٔ زړهٔ کښې به يې خيال هم نهٔ راوستو بلکې دغه ازميښت ته به يې د رسيدو او پهٔ ثابت قدمۍ سره د شهادت مرتبې ته د رسيدو سخت اِنتظار کولو-

## د شهادت واقعه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! هغه ازميښت څهٔ وو؟ څومره سخت اِمتحان وو؟ حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ هغې کښې څنګه کامياب شو؟ واورئ! پهٔ روايتونو کښې دي: د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د خِلافت اخري کال وو، ځينو منافقانو د هغوئي خِلاف

[1]... تفسير روح البيان، پاره:21، سورهٔ احزاب، زير آيت:23، جلد:7، صفحه:161۔

سازش جوړ کړو چې پۀ نتيجه کښې يـې د مِصر خلقو د هغوئي خلاف بغاوت اوکړو او مدينے منورې ته راغلل او د هغوئي د کور نه چاپېره شول- اوس حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دننه وو، هغوئي بهر وتلو ته هم نۀ پريښودے کيدو، د بهر نه د خوراک څښاک څۀ سامان هم دننه نۀ پريښودے کيدو، څو ورځې هغوئي هم داسې تيرې کړې! د هغوئي سره د محبت کوونڪو د طرف نه به بيا بيا عرض کيدلو چې عالي جاه! حڪم اوکړئ چې مونږ دا باغيان پۀ لړ وخت کښې د دې ځائے نه لرې کړو خو د هغوئي هم يو جواب وو: **خوږ آقا** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **زما سره وعده فرمائيلې ده او زۀ به پۀ هغې باندې صبر کووم-** (1)

## خون ريزي يـې منظور نۀ کړه

د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د بے مثاله صبر نه قربان شم---!! د شهادت جام يـې وڅښلو خو پۀ مدينه منوره کښې يـې د مسلمانانو وينه توئيول خوښ نۀ کړل- د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د کور مبارک نه خلق چاپېره شول او اوبۀ پرې بندې کړے شوې ◈ د هغوئي سره محبت کوونڪي کور ته حاضر شول او د باغيانو سره يـې د مقابلې اِجازت وغوښتو خو عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اِجازت ورکولو نه اِنڪار اوکړو او ◈ کله چې د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ غلامان د وسلې سره د اجازت اخستو د پاره حاضر شول نو وه يـې فرمائيل: که تاسو زما خوشحالي غواړئ نو وسله وغورځوئ او واورئ! پۀ تاسو کښې چې کوم غلام هم وسله وغورځوي ما هغه ازاد کړو- پۀ **اللّٰه** پاک مې دې قَسم وي! د وينې

---

[1]… رياض النضرة، جز:3، الباب الثالث، الفصل الحادى عشر، ذكر عرض على وغيره...الخ، صفحه:60 و 61 خلاصةً-

توئيدو نه مخکښې زما شهيد کيدل زما ډير خوښ دي- زما شهادت ليکلے شوے دے او رسولِ ذِيشان، محبوبِ رحمان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما له د دې زيرے راکړے دے- حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ خپلو غلامانو ته وفرمائيل: **که تاسو جنګ کوئ نو بيا به هم زهٔ شهيد کيږم-** (1)

رکھا محصُوراُن کو بند ان پر کر دیا پانی | شہادت حضرتِ عثمان کی بے شک ہے لاثانی (2)

## د حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام سره مُشابهت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پهٔ دې ځائے کښې حُضُور داتا ګنج بخش علي هُجويري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ډيره عِلمي نکته بيان کړې ده، ليکلي يې دي:چې پهٔ دې محاصره کښې يو ځل حضرت اِمام حَسَن مجتبیٰ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ خوا له تشريف راوړلو، عرض يې اوکړو: اے اَمِيرُ الْمُؤمِنِين! اِجازت راکړئ چې مونږ دا باغيان د دوئي انجام ته ورسوو- حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وفرمائيل: اے وراره! کور ته لاړ شئ! ارام اوکړئ! د دې پورې چې د تقدير ليکلے شوي غالِب راشي، لَا حَاجَةَ لَنَا فِي اِهْرَاقِ الدِّمَاءِ مونږ ته د وينې توئيولو هيڅ حاجت نشته-

داتا حُضُور رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې روايت د ليکلو نه پس فرمائي: د حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د سيرت مبارک دا اړخ چې باغيان ترې راتاؤ شوي دي، د هغوئي نه د مدد اِجازت

---

1... تحفه اثنا عشرة، مطاعن عثمان رَضِيَ اللّٰهُ عنه، طعن دہم، صفحه:327-

2... وسائل بخشش، صفحه:584-

غوښتلے کېږي، عرض کولے شي چې اِجازت راکړئ! مونږ به دا باغيان خپل اَنجام ته ورسوو، هغوئي بيا هم څهٔ کام نهٔ پورته کوي، پهٔ تقدير باندې راضي اوسي، د هغوئي د سيرت مبارک دا اړخ داسي دے چې د **اللّٰه** پاک د نبي حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام سره کمال مُشابهت لري، هُغه وخت هم وو کله چې حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام وور ته غورځولے کيدلو، جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام حاضرېږي، عرض کوي: اے اِبراهيمه عَلَيْهِ السَّلَام ! که څهٔ حاجت وي نو وفرمايئ! وه يې فرمائيل: حاجت خو شته خو تا ته نشته، عرض يې اوکړو: چا ته چې مو حاجت دے هم هغوئي ته يې عرض کړئ! وه يې فرمائيل: **اللّٰه** پاک ته معلومه ده، زما غوښتو ته څهٔ حاجت نشته۔

داتا حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: هغه حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام وو کوم چې د تسليم او رضا دومره اوچت مقام ته رسيدلے وو، جبريل عَلَيْهِ السَّلَام د مدد د پاره حاضرېږي، هغوئي مدد نهٔ اخلي، د **اللّٰه** پاک پهٔ ليکلے شوي تقدير باندې راضي اوسي، دلته حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ دے، سخته ده، پريشاني ده، اِمتحان دے، حضرت مولیٰ علي، اِمامِ حسن **مجتبیٰ** رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُما د مدد د پاره راځي خو حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د هغوئي مدد نهٔ حاصلوي بلکې د **اللّٰه** پاک پهٔ ليکلے شوي تقدير باندې راضي اوسي۔ [1] د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ هم دا هُغه عظيم شان دے د کوم پهٔ بيانولو چې د **اللّٰه** پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: اِنَّا نُشَبِّهُ عُثْمَانَ بِاَبِيْنَا اِبْرَاهِيْمَ بے شکه مونږ عثمان د خپل والِد اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام مُشابهه

---

[1]...كشف المحجوب، صفحه:86و 87 خلاصةً۔

ګڼو- (1)

يعنې د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په سيرت کښې د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام د سيرت نښې موجودي دي- سُبْحٰنَ الله! دا څومره لوئي شان دے---!!

| | |
|---|---|
| اللہ سے کیا پیار ہے عثمانِ غنی کا | محبوبِ خُدا یار ہے عثمانِ غنی کا |
| جس آئینہ میں نورِ الٰہی نظر آئے | وہ آئینہ رخسار ہے عثمانِ غنی کا (2) |

**وضاحت:** حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د **الله** پاک سره بے کچه محبت کوونکے، د محبوبِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دوست او صحابي دے، د هغوئي مخ مبارک داسې روښانه دے چې په دې کښې د **الله** پاک نُور ځليږي-

## د الله پاک په رضا باندې راضي اوسئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا زمونږ د پاره سبق دے، وګورئ چې څومره مشکله مرحله وه ◈ 40 ورځې حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په مُحاصره [يعنې ګِيرۀ] کښې تيرې کړې ◈ لوږه تنده يې برداشت کړه ◈ په دغه وخت کښې به هم هغوئي روژې نيولې ◈ ډير په اِطمينان سره به يې د قرآنِ کريم تِلاوت کولو ◈ د ډيرو سختو تيرولو باوجود هم په وينه توئيدلو باندې راضي نۀ شو بلکې د **الله** پاک په رضا باندې راضي او صابِر وو-

---

1 ... مسند الفردوس، جلد:1، صفحه:55، حديث:152-

2 ... ذوقِ نعت، صفحه:80 و 81 ملتقطًا-

كاش چې زمونږ هم دا جذبه نصيب شي، افسوس چې ◈ دلته شور ډير كولے شي ◈ بے صبري ډيره كولے شي ◈ مَعَاذَالله! د **الله** پاک نه ګيلې كولے شي (اَستَغفِرُالله! اَستَغفِرُالله!)، زمونږ مشكلات څۀ دي؟ ◈ چې يو وخت خوراک ميلاؤ نۀ شي نو مونږ بے صبره كيږو ◈ كه نوكري ختمه شي ◈ كار بند شي ◈ يو څو ورځې امدن بالكل ختم نۀ بس لږ شان كم شي نو مونږ بے صبره كيږو ◈ لږ مو چې پۀ سر باندې درد شي نو **هي هُو** شروع كړو ◈ څۀ بيماري راشي نو نا شُكري شروع كړو- **الله** پاک دې زمونږ پۀ حال باندې رحم اوكړي، كاش چې زمونږ د تَسليم او د رضا دولت نصيب شي، هر وخت، هر ساعت د **الله** پاک پۀ رضا باندې راضي كيدونكي جوړ شو-

گویہ بندہ نکما ہے بیکار، اس سے لے فضل سے رَبِّ غَفَّار
کام وہ جس میں تیری رِضا ہے، یا خدا! تجھ سے میری دُعا ہے
میری بَک بَک کی عادَت مِٹادے اور آنکھیں حیا سے جُھکادے
صدقہ عثمان کا جو باحیا ہے، یا خدا! تجھ سے میری دُعا ہے[1]

## (3): د حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مالي قُرباني

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ چې پۀ كوم شان سره، د كوم بے مثاله صبر او د اِستقامت څرګندونه اوكړه او د **الله** پاک پۀ لار كښې يې ځان

[1]...وسائلِ بخشش، صفحه:138و 139 ملتقطًا-

قربان کړو، دا هم د هغوئي خاصيت دے، دغه شان که د هغوئي د مالي قُرباني ذِکر اوکړے شي نو په هغې کښې هم هغوئي بے مثله او بے مثاله په نظر راځي، هغوئي د ﮬغه شان والا صحابي دے، کوم چې يو ځل نۀ بلکې بيا بيا پخپله د جَنَّت د مالِک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه باقاعده جَنَّت اخستے دے ◈ بِئرِ رُومه (يعني رُومَه نومے کوهے) يې واخستو او د مسلمانانو د پاره يې وقف کړو ◈ د مسجدِ حرام شريف د پراختيا د پاره يې ځائے واخستو او پيش يې کړو ◈ د جيشِ عسرت (يعني د غزوۀ تبوک په وخت يې د لښکر) د پاره د زړۀ د اِخلاصه مال او ذريعې پيش کړې او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه يې د جَنَّت زيرے حاصل کړو۔

## اے اللّٰه پاکه! د عثمان نه راضي شې---!!

روايت دے: د غزوۀ تبوک موقع وه، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان لښکر په سفر روان وو، په لاره کښې په يو ځائے کښې مشکل رامخې ته شو، د خوراک څښاک څيزونه ختم شو، ډيره سخته ګرمي وه، ډيره لوږه او تنده وه، دې حالت کښې د صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان په مخونو باندې د خفګان نخښې په نظر راتللې، خو منافقان د دې حالت په ليدو خوشحاليدل۔

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې دا حالت وليدلو نو د غيبو خبر يې ورکړو او وه يې فرمائيل: **په اللّٰه پاک مې دې قسم وي! د نمر پريوتو نه مخکښې به اللّٰه پاک تاسو له رزق راوليږي۔**

حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ هم لښکر کښې موجود وو، کله چې هغوئي د رسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا فرمان واوريدلو نو سمدستي يې انتظام شروع کړو، هغوئي د غلې ډک 7 اوښان واخستل او د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې يې حاضر کړل، کله چې صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان دا اوښان وليدل نو د هغوئي په مخونو خوشحالي راغله، بل خوا د منافقانو مخونه غمژن شو- د سرورِ عالَم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې چې کله هُغه 7 اوښان وړاندې کړے شول نو وه يې فرمائيل: دا څهٔ دي؟ د چا د طرف نه دي؟ عرض اوکړے شو، يَا رسولَ الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ستاسو په خدمت کښې ډالۍ وړاندې کړې ده-

راوي وائي: خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې دا خبره واوريدله نو ما ښکلې وليدل،چې نبي کريم صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دعا د پاره لاسونه پورته کړل او دومره يې پورته کړل چې د سر مبارک نه يې اوچت شول، بيا نبي کريم صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د پاره داسې دعا اوکړله چې هغوئي په داسې دعا کولو مونږ چرې هم نهٔ دي ليدلې- [1]

په يو روايت کښې دي: رسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا اوکړه: اے **اللّٰه** پاکه! زهٔ د عثمان نه رضا يم تهٔ هم د دهٔ نه رضا شې- [2]

---

[1]... الرياض النضرة، الجزء الثالث، بدعاء من رسول الله، صفحه:25-

[2]... تاريخ دمشق، جلد:39، صفحه:54-

حضرت ابو سعيد خدري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: ما خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وليدو! رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ټوله شپه د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د پاره دا دُعا کوله: اے الله پاک! زۀ د عثمان نه رضا يم تۀ هم د دۀ نه راضي شې۔ (1)

| | |
|---|---|
| اللہ سے کیا پیار ہے عثمانِ غنی کا | محبوبِ خُدا یار ہے عثمانِ غنی کا |
| گرمی پہ یہ بازار ہے عثمانِ غنی کا | اللہ خریدار ہے عثمانِ غنی کا(2) |

## د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خوش قِسمتي

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خوش قِسمتۍ ته وګورئ چې رشک خبره ده، خوږ رسول، رسولِ مقبول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ټوله شپه د هغوئي د پاره دُعا اوکړه: يا الله! زۀ د عثمان نه راضي يم، تۀ هم د دۀ نه راضي شې۔

اَللّٰهُ اَکْبَر! د چا نه چې محبوبِ خُدا، د دواړو جهانو آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم راضي شي، د هغۀ نور څۀ پکار دي---!!

| | |
|---|---|
| خدا کی رضا چاہتے ہیں دو عالَم | خدا چاہتا ہے رضائے مُحَمَّد(3) |

وضاحت: پۀ دې شعر کښې اعلیٰ حضرت، امام عشق و محبت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د هغه حديثِ پاک طرف ته اشاره کړې ده پۀ کوم کښې چې دا بيان دے چې د قيامت پۀ ورځ باندې

---

1 ...تاریخ مدینه دمشق، جلد:39، صفحه:54۔

2 ...ذوق نعت، صفحه:80 ملتقطاً۔

3 ...حدائق بخشش، صفحه:65۔

به الله پاک ټول مخکنبيني او وروستني خلق راجمع کړي او خپل محبوب ته به فرمائي: كُلُّ أَحَدٍيَطْلُبُ رِضَایَ وَأَنَاأَطْلُبُ رِضَاكَ يعنې اے محبوبه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! دا ټول زما رضا غواړي خو اے زما محبوبه! زۀ ستا رضا غواړم-[1]

## د خوږ مصطفےٰ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا ميلاؤيدل معمولي خبره نۀ ده

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ياد ساتئ چې د محبوبِ خُدا، سرورِ انبيا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا ميلاؤيدل څۀ عامه خبره نۀ ده، ډير لوئي فضيلت دے- سيِّدُنا امام محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: پۀ اخرت کښې به د الله پاک د طرف نه جنتيانو ته چې کوم د ټولو نه لوئي اِنعام ميلاؤيږي، هغه د الله پاک رضا ده-

اوس کتل دا دي چې د الله پاک رضا څنګه ميلاؤيږي؟ اعلیٰ حضرت اِمام اهلِسُنَّت شاه اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي:

بَہم عَہد باندھے ہیں وَصْلِ اَبَد کا | رضائے خُدا اور رضائے مُحَمَّد[2]

وضاحت: يو ده د الله پاک رضا، يو ده د محبوبِ خُدا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا، دې دواړو (يعنې د الله پاک رضا او د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا) پۀ خپلو کښې تل تر تله دا پوخ لوظ کړے دے چې دواړه به يو ځائے وي، يعنې د چا چې د الله پاک رضا پکار وي، هغه دې

[1]… تفسیر کبیر، پارہ:2، البقرہ، زیر آیت:142، جلد:2، صفحہ:82۔

[2]… حدائق بخشش، صفحہ:65۔

د **الله** پاک خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رضا کړي، د چا نه چې د **الله** پاک خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رضا شي، **الله** پاک به هم د هغهٔ نه رضا شي۔

معلومه شوه چې د چا نه چې د **الله** پاک محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رضا شي، هغه به د اخرت د ټولو نه لوئي انعام يعنې د **الله** پاک د رضا حقدار شي او د **الله** پاک پهٔ فضل سره حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د هغه اوچتې مرتبې والا صحابي دے چې رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ټوله شپه د هغوئي د پاره دعا اوکړه چې: اے **الله** پاکه! زهٔ د عثمان نه رضا يم تهٔ هم د دهٔ نه رضا شې۔

اندازه اولګوئ چې دا د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خومره لوئي فضيلت دے۔

| | |
|---|---|
| اللہ سے کیا پیار ہے عثمانِ غنی کا | محبوبِ خُدا یار ہے عثمانِ غنی کا |
| گرمی پہ یہ بازار ہے عثمانِ غنی کا | اللہ خریدار ہے عثمانِ غنی کا[(1)] |

## د خوږ مصطفےٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رضا موندلو کوشش کوئ!

**اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو!** مونږ له هم پکار دي چې مونږ هم د **الله** پاک د محبوب، د نبيانو د سردار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رضا کولو کوشش اوکړو ◈ نيک کارونه اوکړو ◈ د ګناهونو نه ځان بچ کړو ◈ درود شريف ولولو ◈ ذِکرُ الله اوکړو ◈ د قرآنِ پاک زيات تلاوت اوکړو ◈ د مکي مدني نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د غم زپلي اُمَّت پهٔ غم کښې شريک

[1]... ذوقِ نعت، صفحه:80۔

شو ◈ د عاشقان رسول سره همدردي اوکړو ◈ د نورو پکار راشو، چې داسې اوکړو نو اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم! د الله پاک خوږ نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به زمونږ نه رضا شي، که چرې رسول اکرم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا شو نو اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم! الله پاک به هم رضا شي۔

کام وہ لے لیجئے! تم کو جو راضی کرے | ٹھیک ہو نامِ رضا تم پہ کروروں درود[1]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دا د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ 3 اعلیٰ صفتونه دي: (1): هغوئي د الله پاک د رضا طلب ګار (2): په تقدير باندې راضي اوسيدونکے (3): او د الله او د رسول صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نوم باندې د ځان او د مال قرباني پيش کوونکے دے۔ الله پاک دې مونږ ته د دې نيک کارونو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## يومِ عثمانِ غني ونمانځئ

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! په 18 ذُو الحِج د مسلمانانو د دريم خليفه، حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د شهادت ورځ وي، په کور کښې، دفتر کښې، په دُکان کښې چرته چې کيدے شي، د هغوئي ياد ونمانځئ! د هغوئي د اِيصالِ ثواب د پاره فاتحه شريف ولولئ! خوارۀ وغيره تقسيم کړئ! خومره به ښه وي چې په کور کښې هم بندوبست اوکړئ! د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه رساله دۀ: کراماتِ عثمانِ غنی- ټول کور والا راجمع کړئ او

[1] ... حدائق بخشش، صفحه:271۔

دا رساله د هغوئي په مخكښې ولولئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ډېر بركتونه به مو نصيب شي- **اللّٰه** پاک دې د خپلو خوښو بندګانو په وسيله مونږ نيكان جوړ كړي او مونږ ټول دې د نيكو پابند جوړ كړي او نورو د نيكو طرف ته رابلونكي جوړ كړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اِسلامي د يوې شعبې تعارف:

## خدام المَساجد و الـمدارس الـمدينه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د **اللّٰه** پاک اخري نبي مكي مَدَني صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې كله هجرت وفرمائيلو نو د اِسلام د ټولو نه وړومبے جومات يې جوړ كړو كوم چې نن هم د مسجدِ قُبا په نوم سره پېژندلے شي، د مسجدِ قُبا د جوړيدو نه شروع شوې دا لړۍ د اِسلام د خوريدو سره سره زياتيږي او اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په ټوله دُنيا كښې په لكونو جوماتونه موجود دي- پخپله د دوارو جهانو سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او صحابهٔ كرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم او د دِين بزرګانو رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْهِم د جوماتونو په جوړولو كښې ښه پوره برخه اخستلې ده- د دِين د بزرګانو په دې نقشِ قدم باندې د تللو سره، د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علامه مولانا محمد اِلياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په فيضان سره د جوماتونو او د مدرسو د جوړولو د پاره يوه شعبه په نوم د خُدام المَساجد و المَدارس الـمدينه جوړه كړے شوې ده- د دې شعبې لاندې په كلو، نوؤ سوسائيټيز كښې او چرته چې د عاشقانِ رسول جوماتونه نهٔ وي هلته د جوماتونو د جوړولو لړۍ روانه ده- د پاره د دې چې د ځغه ځائے خلق په اسانۍ سره نمونځ ادا كړے

شي او بچو ته د قرآنِ کريم تعليم ورکړے شي۔

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دې شعبې په کوششونو په ملک او بهر ملکونو کښې تقريباً د 10 زرو نه زيات جوماتونه او مَدارس الـمدينه جوړ کړے شوي دي۔ د زر [1000] نه زيات جوماتونه جوړېږي او د 500 نه زيات پلاټونه موجود دي چرته چې به ډېر زر د جوماتونو جوړولو سلسله شروع کولے شي۔ د ځائے د اخستو نه واخله د مکمل کيدو او د نـمونځونو د ادا کيدو پورې ټولې معاملې د مفتيانو صاحبانو په نګرانۍ کښې کيږي۔ داسې چې په کومو علاقو کښې د مدرسو ضرورت وي يا وَس لرونکي خلق د مدرسو د پاره ځائے ورکړي، هلته د مدرسو د جوړولو پوره اِنتظام د دې مجلس په نګرانۍ کښې کولے شي۔ **اللّٰه** پاک دې د دعوتِ اِسلامي دې شعبې ته ډېره ترقي عطا کړي۔

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## فيضانِ حديث موبائل ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د آئي ټي ډيپارټمنټ له خوا ډېر فائده مند موبائل ايپلي کيشن په نوم د "فيضانِ حديث" په ***Play Store*** او ***App Store*** باندې وړاندې کړے شوے دے۔ په دې ايپلي کيشن کښې تاسو د حديثِ پاک مشهور کتابونه مثلاً ◈ مِشْكٰوةُ الْمَصَابِيْح او د دې اسانه اُردو شرح مِرْاٰةُ الْمَنَاجِيْح ◈ الْأَرْبَعِيْنِ النّووِيَّة د اُردو ترجمې او شرحې سره ◈ رِيَاضُ الصَّالِحِين د اُردو ترجمې او شرحې سره ◈ أَرْبَعِيْنِ حَنَفِيَّه (اردو) ◈ او مُنْتَخَبْ اَحَادِيث (اُردو) شامل کړے شوي دي۔ ◈ د دې ايپلي کيشن په مدد سره تاسو حديثونه مبارک په کتابي شکل کښې (يعني د جلدونو په لحاظ سره) هم لوستلے شئ

او د مختلفو موضوعاتو پۀ لحاظ سره هم د خپلې خوښې موضوع لوستلے شئ ◈ د سرچ آپشن [يعنې د لټولو آپشن] پۀ مرسته حديثونه مبارک لټولے هم شئ- ◈ پۀ دې کښې د حديثِ پاک د عربی متن د اعراب سره او د اعراب نه بغير، پۀ دواړه قِسم د کتلو سهولت کيښودے شوے دے ◈ د لوستلو د نوټس ***Notes*** محفوظ کولو د پاره د خوښې د حديثونو د ***Favorite*** کولو آپشن هم ورکړے شوے دے ◈ د مختلف فاؤنټس ***Fonts*** او د حديثونو د شيئر ***Share*** کولو سهولت هم ورکړے شوے دے-

هم نن پۀ خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن ډاؤن لوډ کړئ! پخپله هم د حديثِ پاک فيضان حاصل کړئ! او نورو ته هم ترغيب ورکړئ!

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب!      صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مُحَرّم شريف راتلونکے دے، اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم! د يکم محرّم شريف نه تر 11 مُحَرّم شريف پورې به هره شپه د مدني مذاکرو سلسله وي◈ که کيدے شي نو عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه کراچی ته تشريف يوسئ! او د اميرِ اهلسُنّت مولانا محمد الياس قادري دامَت بَرَکَاتُهمُ العالِيه په صحبت کښې مدني مذاکرو کښې شامل شئ! ◈ په خپلو علاقو کښې په اجتماعي طور د مدني مذاکرو د کتلو اهتمام وکړئ! ◈ د کور کسانو سره په اجتماعي توګه د مدني مذاکرې د کتلو کوشش وکړئ! ◈ په فيس بک او يو ټيوب باندې هم مدني مذاکره لائيو وي که کيدے شي نو په هغې د مدني مذاکرې د کتلو اهتمام وکړئ!

د راتلونکي هفتې پۀ ورځ به هم د ماسخوتن د نمونځ نه پس تقريبا پۀ 9:30 بجې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاكره كيږي، پۀ كومه كښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم وركوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې پۀ دې مَدَني مذاكره كښې پخپله هم شركت وكړي او نورو له دې هم دعوت وركړي ◈ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت هره هفته د يوې ديني رسالې لوستلو ترغيب وركوي، پۀ راتلونكې هفته واره مَدَني مذاكره كښې به د رساله **د ذِكرُ الله واقعات** اعلان كولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب وركړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د **الله** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر كړي! ◈ **مكتبةُ الْمدينه** د مسلمانانو د دريم خليفه حضرت عثمان غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په سيرت او فضائل و كراماتو مشتمل ډيره ښكلې رساله په نوم د "**كراماتِ عثمان غني (مع ديگر حكايات)**" چاپ كړې ده، هُم داسې د حضرت عثمان غني رَضِیَ اللّٰہُ عنه د تعارف او د هغوئي د جنّتي كيدو په باره كښې هم يوه رساله په نامه د "**حضرت عثمان بهى جنّتى جنّتى**" چاپ كړې ده- د **مكتبةُ الْمدينه** د هرې يوې څانګې نه رساله "**كراماتِ عثمان غني (مع ديگر حكايات)**"، په **32 روپے** او رساله "**حضرت عثمان بهى جنّتى جنّتى**"، په **20 روپے** قيمتاً غوښتلے شئ، په خپله يې هم مطالعه كړئ او نورو ته هم د دې ترغيب وركړئ-

## د مُحَرّم شريف د قافلو ترغيب

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** په عالمي سطح باندې د شهدائے كربلا او امام حسين رَضِیَ اللّٰہُ عنه په درانه خدمت كښې د ثواب نذرانه پيش كولو د پاره د دعوتِ اسلامي

مُبَلِّغين د الله پاک په لاره کښې د نیکۍ دعوت ورکولو، عِلمِ دین زده کولو او ښودلو د پاره په قافلو کښې سفر کوي- د هر کال په شان به دا کال هم په **8، 9، 10 مُحَرّم شریف 1448 هجري** د شهدائے کربلا د ایصالِ ثواب د پاره قافلې سفر کوي- تاسو هم د 3 ورځو قافله کښې د سفر کولو نِیّت وکړئ- **الله** پاک دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفیق رانصیب کړي- اٰمِیْنْ بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بیان په اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّۃِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چې زما سره محبّت اوکړو هغه به په جَنَّت کښې زما سره وي- [1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

لږ خوراک کول سُنَّت دے

**د آخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمان دے:** کله چې بنده په خپل خوراک کښې کمے کوي نو د هغهٔ سینه د نُور نه ډکه کړے شي-[2]

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** لږ خوراک کول سُنَّت دے◈ زمونږ ګران آقا،

---

[1]...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343-

[2]...جامع صغیر، صفحه:35، حدیث:469-

مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د لوږې نه کم خوراک کولو◈خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې تر څو پورې په دنيا کښې تشريف فرما وو، نو هيڅکله يــې هُم پرله پسې [يعنې مسلسل] 2 شپې په خوراک ځان نۀ وو موړ کړے ◈خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د لوږې په وجه په خيټه مبارکه باندې کاڼي تړل۔

**د خوراک د مِقدار په باره کښې اَحکام:** ◈ [خوراک په داسې اندازه کول چې څه نا څه] لوږه پاتې شي دا سُنّت دي ◈چې څومره لوږه وي، هغه هومره خوراک کول مُباح دي (يعنې په دې کښې نۀ ګناه شته او نۀ ثواب) ◈دومره ډير خوراک کول چې د خيټې خرابيدو ګمان وي، حرام دے◈داسې په مړه خيټه خوراک کول چې د خيټې د خرابيدو ويره نۀ وي، مکروه دے◈دومره کم خوراک کول چې [د کمزورئ په وجه] د فرائضو په ادا کولو کښې خلل راشي، ناجائز دے۔(1)

د مختلفو سُنّتو زده کولو د پاره د مکتبةُ المدينه [چاپ کړي کتاب] **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حِصّه 16 او د شيخِ طريقت، اميرِ اهلسُنّت مولانا محمد الياس قادري دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د 91 صفحو رساله "**550 سُنّتيں اور آداب**" واخلئ او ويــې لولئ- د سُنّتو زده کولو يوه ذريعه د دعوتِ اسلامي په قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سُنّتو ډک سفر هم دے.

زده کړئ ښکلې سُنّتونه قافلو کښې لاړ شئ
ډير به وشي رحمتونه قافلو کښې لاړ شئ

الله پاک دې مونږ ته د عمل توفيق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

---

1... بهارِ شَرِيعت، حصه:16، جلد:3، صفحه:374ملخصًا۔

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې

## لوستلو والا (6) دُرودِ پاک او (2) دُعاګانې

﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [یعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِکْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ

الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چې څوک هره شَبِ جُمعه (یعنې د جُمعې او زیارت په مینځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شریف په پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د مَدَني آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې مَدَني آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبر ته د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي. [1] راځئ چې مونږ هم په شریکه دا دُرُود ووائیو.

﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

د حضرتِ سَیِّدُنا اَنَس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دے چې مَدَني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي که ولاړ وي نو د کښیناستلو نه مخکښې او که

---

[1] ...اَفْضَلُ الصَّلاة، صفحه:151، خلاصةً۔

ناست وي نو د ودريدلو نه مخکښې به د هغۀ ګناهونه مُعاف کړے شي.[1] راځئ چې مونږ هم پۀ شريکه دا دُرُود ووائيو.

## ﴾3﴿ د رَحمت اويا دروازې:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي پۀ هغۀ به د رَحمت اويا دروازې برسيره کړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم پۀ شريکه ووائيو.

## ﴾4﴿ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْکِ اللّٰہِ

حضرت اَحمَد صَاوِی رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: د دې دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو (6) لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[3] راځئ چې پۀ شريکه يې ووائيو.

## ﴾5﴿ د خوږ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم قُرب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَہٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اکبر

---

1... اَفْضَلُ الصَّلَاۃ، صفحه:65۔

2... قَوْلُ البَدِیْع، باب ثانی، صفحه:277۔

3... اَفْضَلُ الصلاۃ، صفحه:149۔

رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ تر مینځه کښېنولو، پهٔ دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم حیران شو چې دا خوک اوچتې مرتبې والا دے! چې کله هغه لاړو نو حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: دے چې کله پهٔ ما باندې دُرُودِ پاک لوَلي نو داسې یې لوَلي.(1) راځئ چې مونږ یې هُم پهٔ شریکه ووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوک چې داسې دُرود شریف ولوَلي، د هغهٔ د پاره زما شفاعت واجب شي.(2) راځئ چې دا دُرُود هُم پهٔ شریکه ووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر [1000] ورځو نیکۍ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

د حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہما نه رِوایت دے چې مَدَني آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د یو زر [1000] ورځو پورې نیکۍ لیکي.(3) راځئ چې مونږ یې هُم پهٔ شریکه ووائیو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر یې چې حاصل کړو

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې

1...قَوْلُ البَدِیْع، باب اَوّل، صفحه:125۔
2...الترغیب والترہیب، کِتَابُ الذِّکر والدُّعَا، جلد:2، صفحه:329، حدیث:30۔
3...مَجْمَعُ الزَّوائِد، کِتَابُ الْاَدْعِیَه، جلد:10، صفحه:254، حدیث:17305۔

دا دُعا درې ځله ولوستله نو لکه هغهٔ چې شبِ قدر حاصل کړو۔ [1] راځئ چې مونږ هُم دا دُعا پهٔ شریکه ووائیو۔

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِیْمُ الْکَرِیْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

(د حِلم او کرم کوونکي **اللّٰه** پاک نه علاوه هیڅوک د عبادت لائق نشته، **اللّٰه** پاک دے، د اووهٔ اسمانونو او د عظمت والا عرش **رَبّ**)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

1...تاریخ ابنِ عساکر، 155/19، حدیث:4415